چمتو والي کچه

education above all
التعليم فوق الجميع

# آیا زما په څېر بل څوک شته دی؟



لیکوال: فرید ستراثېډوم
انځورگر: جیس جارډیم-ویډیپول

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire


Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



زه فکر کوم چې آیا زما په
څېر بل څوک چېرته بل
ځای کې په نړۍ کې شته
دی؟



 څوک چې کټ مټ زما په
څېر وي.



او زما په ښېر خبرې کوي.



او آن زما په څیر
ګوړګوټي ویښتان
درلودونکی وي.



یو داسې څوک چې زما
سترګې او غوږونه ولري.

ښوک چې آن زما خندا ولري.





ځوک چې هغه څه وکړای
شي چې زه يې کولای شم.



او هغه څه و نه کړای شي چې زه
يې نه شم کولای.





ما د خپل ځان د پیدا کولو
لپاره نظر اچولی او هر ځای
مې لټولی دی.

زه پارک ته ولاړم او د ونو تر شا
ته مې وکتل.



ما خوا او شا، ښکته او پورته وکتل.



هر یو مخ باندې مې نظر
واچاوه.



ما په یو ځای کې هم د ځان په شان بل پیدا نه کړای شو.





په نړۍ کې یوازې یو زه یم!

زه ځانګړی یم، اوه، دا
ریښتیا ده!



خو يوازې زه نه، ته نه
ګورې؟

ته هم يوازې يو يې!

## لاربښودونکې پوښتنې:

1. آیا تاسې کله خر لیدلی دی؟ تشریح یې کړئ.
2. خر په کیسه کې د څه شي کولو هڅه کوي؟ ولې؟
3. هغه کوم ځینې حیوانات دي چې خر ورسره خپل ځان پرتله کاوه؟
4. آیا ستاسې په څېر څوک شته دی؟ څه شی تاسې ځانګړی او بېسارې جوړوي؟
5. هغه کوم ځینې کارونه دي چې تاسې یې کولای شئ؟ هغه کوم ځینې کارونه دي چې تاسې یې کولای نه شئ؟